د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه

امارت اسلامی افغانستان
ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي ریاست
د تحریراتو آمریت
د متحدالمآلونو څانګه

د متحدالمآل ګڼه: ۵
نېټه: ۱۴۴۳/۷/۲۱ هـ ق

☐ عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر

د افغانستان اسلامي امارت تمیز ونو ، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته!

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته

وبعد: دارالانشاء ریاست د تیري فاسد اداري د تعزیري جزاګانو په باره کي د ستري محکمې د عالي شورا محترم مقام ته داسي پیشنهاد کړي وو :

((په هغه موضوعاتو کي چي تیري فاسدي اداري پر چا د تعزیر فیصله کړې وي بیا هغه تعزیر اجراء سوی وي یا څه تعزیر اجراء سوی وي، څه پاته وي بندي په فتحه کي خلاص سوی وي یا خو ټول تعزیر پاته وي د فتحي د راتګ سره خلاص سوی وي دغسي موضوعات چي زموږ محکمو ته راسي په زاړه ورکول سوي تعزیر اکتفاء وکړي یا پاته سوی تعزیر ورکړي او که په درې سره صورتو کي محکمه خپل تعزیر ورکړي.))

د دارالانشاء ریاست د فوق الذکر پیشنهاد په اړه د ستري محکمې عالي شورا لخوا د تصویب نمبر(۲) مورخ ۱۴۴۳/۶/۷ هـ ق په توسط لاندي هدایت صادر شو:

((په حق الله کي چي کومي تعزیري فیصلې د فاسدي اداري د محکمو لخوا سوي وي دغه تعزیري فیصلې اجراء سوې وي که نه؟ په دواړو صورتونو کي دغه محکوم علیه کس په دغه فیصله سوي موضوع کي خلاص دی محکمه به یې نه راغواړي.

په حقوق العباد کي د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم مقام او د ستري محکمې د رئیس محترم شیخ صاحب د مجلس مورخ ۱۴۴۳/٤/۲۷ هـ ق مطابق تعزیري فیصلې د نورو فیصلو په شان دي! ځکه په هغه مجلس کي د فاسدي اداري د فیصلو لفظ مطلق ذکر سوی دی نو که عارض د تعزیري فیصلې تطبیق یا د محکوم علیه د پاته حبس پوره کول غواړي دغه تعزیري فیصله یا فیصلې به د ستري محکمې دارالافتاء ریاست ته استول کیږي هغوی به تحقیق وکړي، که د شریعت خلاف وې نو بیرته به د سره جریان ورکول کیږي او که د شریعت موافق وي نو بیا به ورته تطبیق کیږي.

او که په موضوع کې تعزیري فیصله یواځې ابتدائیې کړې وي نو مرافعه دې وګوري او که مرافعې کړې وي بیا به یې د تمیز عالي ریاست وګوري د نورو فیصلو په شان معامله به ورسره وکړي.))

په پورته ذکر شوي تصویب کې د درج شوي موضوعاتو په اړه د دې متحدالمآل په استولو سره و ټولو تمیزونو، دېوانونو مرافعه او ابتدائیه محاکمو ته خبر ورکول کیږي تر څو خپلې شرعي او اصولي کړنې د هغې په رڼا کې برابري کړي.

په درنښت

مفتي عبدالرشید "سعید"

د ستري محکمې

د دارالانشاء رئیس

سټره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

Address: Public health Square ۹th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
ټیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af